قاصد
QASED
Strategic Research Center

۱۰مه ګڼه

(۱۲–۱۸ جولای ۲۰۱۹م)

(۲۱ – ۲۷ سرطان ۱۳۹۸ هـ ش)

# د جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونيز راپور




www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58


قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنيتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقيق ډول څاري او دغه اوونيز راپورترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچينو، د طالبانو د سرچينو، په سيمه کې عيني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچينو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زيانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو پام رااړول دي.

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال د جولای له ۱۲مې تر ۱۸مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د چنګاښ له ۲۱مې تر ۲۷مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي.

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې دغه اوونۍ هم خورا خونړۍ وه او په ځانګړې توګه د ملکي خلکو مرګ ژوبله پکې د تېرې اوونۍ په پرتله دوه‌چنده لوړه وه. د افغان ځواکونو لپاره بیا تر ټولو خونړۍ پېښه په بادغېس ولایت کې وشوه، چې لږ تر لږه ۳۹ تنه افغان کمانډو سرتېري پکې ووژل شول. همدا راز په دې اوونۍ کې بیا هم د ملکي خلکو ډېره مرګ ژوبله د هوايي بریدونو او شپنیو عملیاتو او همدا راز د سړک غاړې ځای پر ځای شوو ماینونو د چاودنو له کبله وه.

دلته په ترتیب سره افغان ځواکونو، د دولت وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو او بهرنیو ځواکونو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د جولای ۱۲مه:**

د ننګرهار ولایت په پچیراګام ولسوالۍ کې یوه ځانمرګي بریدګر د واده په مراسمو کې د سیمه‌ییزو پولیسو قوماندان په نښه کړ، چې له امله یې د سیمه‌ییزو پولیسو دغه قوماندان وژل شوی دی.

د خوست ولایت په موسی خېلو ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د پولیسو پر یوه مرکز برید وکړ، چې له امله یې یو پولیس او یو سرتېری وژل شوی دی.

د بادغېس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د پولیسو یو قوماندان له ټيپي کېدو وروسته وژل شوی دی.

د فاریاب ولایت د پلخراغ ولسوالۍ په کولیان سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید پرمهال ۱۲ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د جوزجان ولایت په قرنین سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۳ پولیس افسران وژل شوي دي.

**د جولای ۱۳مه:**

د بادغېس ولایت په مرکز قلعه نو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پر مهال ۴ سرتېري وژل شوي او ۱۶ نور ټپیان شوي دي.

همدا راز د بادغېس ولایت په بالا مرغاب ولسوالۍ کې یو پولیس د وسله‌والو طالبانو په راکټي برید کې وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د ننگرهار ولایت مرکز جلال آباد کې د یوه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله یو پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت د پښتونکوټ ولسوالۍ په هزاره قلعه سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله یو محلي پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د جوزجان ولایت پر قرقین ولسوالۍ برید کړی، چې له امله ۳ پولیس وژل شوي دي.

د سرپل ولایت په گوسفنده ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو یو محلي پولیس وژلی دی.

د بغلان ولایت په گذرگاه‌نورخان ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۵ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت په تیوره ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې له کبله یو پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په قرغان تېپه سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال یو محلي پولیس وژل شوی دی.

د کندهار ولایت په میانیشین ولسوالۍ کې د پولیسو د اوبو وړلو پر موټر د سړک پر غاړه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۲ پولیس وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

**د جولای ۱۴مه:**

د بدخشان ولایت په درایم ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د یوه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله د سیمه‌ییزو پولیسو یو قوماندان وژل شوی او ۳ سیمه‌ییز پولیس ټپیان شوي دي.

**د جولای ۱۵مه:**

د فارياب ولايت د پښتونکوټ ولسوالۍ په نذير آباد سيمه کې د وسله‌والو طالبانو او سيمه‌ييرو پوليسو د نښتې پرمهال ۵ سيمه‌ييز پوليس وژل شوي دي.

د هرات ولايت په څو ولسواليو کې د افغان ځواکونو د عملياتو پر مهال يو سرتېرى وژل شوى او شپږ نور ټپيان شوي دى.

د بدخشان ولايت د رګېستان ولسوالۍ په ګردنه سيمه کې وسله‌والو طالبانو د پوليسو پر دوو پوستو بريد وکړ، چې له امله يې يو پوليس وژل شوى او ۴ سيمه‌ييز پوليس ټپيان شوي دي.

**د جولای ۱٦مه:**

د بادغيس ولايت د آبکمري ولسوالۍ په ميده قول کلي کې د افغان کمانډو ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې پرمهال ۳۹ کمانډو ځواکونه وژل شوي دي.

د هرات ولايت په رباط سنګي سيمه کې وسله‌والو طالبانو ۲ پوليس افسران په ډزو وژلي دي.

د کابل ښار په قلعه زمان خان سيمه کې يو پوليس د ماين په چاودنه کې وژل شوى دى.

**د جولای ۱۷مه:**

د غزني ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې د ملي اردو د دريمې لېوا قوماندان د يوه نفوذي کس لخوا وژل شوى او ۲ نور پوځيان ټپيان شوي دي.

د کندز ولايت په خان آباد ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو يو سيمه‌ييز پوليس په ډزو وژلى دى.

د بغلان ولايت د دوشي ولسوالۍ په چهل کاپه سيمه کې يو پوليس وژل شوى دى.

د هلمند ولايت په ګرشک ولسوالۍ کې د طالبانو د بريد پرمهال يو پوليس وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

**د جولای ۱۸مه:**

وسله‌والو طالبانو د کندهار ښار د امنيه قوماندانۍ د ننوتلو دروازې سره د موټر بم بريد وکړ، چې له امله يې ۲ پوليس وژل شوي دي.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| **ملي اردو** | ۴۵ | ۲۴ | ٦۹ |
| **پوليس** | ۴۹ | ۲۷ | ۷٦ |
| **مجموعه** | **۹۴** | **۵۱** | **۱۴۵** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفينو مرګژوبله

**د جولای ۱۲مه:**

د خوست ولايت په موسی خېلو ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې برمهال ١٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ١٣ نور ټپيان شوي دي.

**د جولای ۱۳مه:**

د بادغېس په مرکز قلعه نو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۲ وسله‌وال وژل شوي او ۲ ټپيان شوي دي

د بلخ ولايت په ايلمان سيمه کې د افغان ځواکونو د هوايي بريدونو په پايله کې ۱۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۵ نور ټپيان شوي دي.

د فراه ولايت په خاک‌سفېد ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوايي بريدونو له امله ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

او همدا راز د هرات ولايت په فرسي ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوايي بريد له امله ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د غور ولايت په تيوره ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د جولای ۱۴مه:**

د تخار ولایت په نمک‌آب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په چاپېزو عملیاتو کې ۱۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپيان شوي دي.

د میدان وردگو ولایت د جغتو ولسوالۍ په بلندخېل، چوپان، او کماخېلو کلیو کې د شپنیو عملیاتو پر مهال د ملکي وګړو ترځنګ ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د اروزګان ولایت په ګیزاب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوايي او شپنیو عملیاتو کې ۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د کندهار ولایت په شاولیکوټ ولسوالۍ کې بهرنیو ځواکونو د وسله‌والو طالبانو پر موټر هوايي برید کړی، چې له امله يې ۱۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د غزني ولایت په ده‌یک ولسوالۍ د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۱۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ نور ټپيان شوي دي.

**د جولای ۱۵مه:**

د فارياب ولایت د پښتونکوټ ولسوالۍ په نذیر آباد سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او سیمه‌ییرو پولیسو د وسله‌والې نښتې پرمهال ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هرات ولایت په څو ولسواليو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتو پرمهال ۵۰ وسله‌وال طالبان وژل شوی دي.

د فارياب ولایت د پلخراغ ولسوالۍ په کولیان سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د عملیاتو پر مهال ۱۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۹ نور ټپيان شوي دي.

**د جولای ١٦مه:**

د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ په کمال خېلو او زرغون ښار کلیو کې د افغان ځواکونو په بریدونو کې ٦ طالب وسله‌وال وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

د بادغیس ولایت د آبکمري ولسوالۍ په میده قول کلي کې د افغان کمانډو ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې له امله ۳۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

همدا راز د بادغېس ولایت د آب کمري ولسوالۍ په میده قول سیمه کې د افغان ځواکونو د شپنیو عملیاتو پرمهال ۲۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د غزني په مرکز منګور سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې پرمهال ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**دجولای ۱۸مه:**

وسله‌والو طالبانو د کندهار ښار د امنیه قوماندانۍ د ننوتلو دروازې سره د موټر بم برید وکړ، چې له امله يې ۲ وسله‌وال بریدګر وژل شوي دي.

### جدول : د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۲۲۸ | ۴۱ | ۲٦۹ |
| مجموعه | **۲۲۸** | **۴۱** | **۲٦۹** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د جولای ۱۲مه:**

د پکتیا ولایت په مرکز ګردېز کې یو د خصوصي راډیو خبریال د نامعلومو کسانو په برید کې وژل شوی دی.

د ننګرهار ولایت په خوګیانیو ولسوالۍ کې د واده په مراسمو کې د سیمه‌ییزو پولیسو پر یوه قوماندان د ځانمرګي برید له امله يې ۹ ملکي وګړي وژل شوي او ۴۰ نور ټپیان شوي دي.

د سرپل ولایت په کورک سیمه کې ۳ بزګران د وسله‌والو طالبانو له لوري په ډزو وژل شوي دي.

**د جولای ۱۳مه:**

د بادغېس په مرکز قلعه نو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۱۰ ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د جولای ۱۴مه:**

د لوګر ولایت د زرغون ښار په کاربز سعید سیمه کې ولسي پاځون کونکو پر ملکي وګړو برید کړی، چې له امله یې ۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د ارزګان ولایت په ګیزاب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوایي او شپنیو عملیاتو کې ۳۵ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د میدان وردګو د جغتو ولسوالۍ په بلندخېل، چوپان، او کمالخېلو کلیو کې ۱۴ ملکي وګړي وژل شوي دي.

**د جولای ۱۵مه:**

د کندهار ولایت په خاکریز ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د ځای پرځای شوي ماین د چاودنې له امله ۹ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۸ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت په خارکرېز ولسوالۍ کې د سړک پرغاړه د ځای پرځای شوي ماین د چاودنې له امله ۱۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۳ نور ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ په کمال خېلو او زرغون ښار کلیو کې د افغان ځواکونو په هوایي بریدونو کې ۱۸ ملکي وګړي وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۱٦مه:**

د بادغېس ولایت په آب کمري ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د نښتې پر مهال ۴ ملکي وګړي وژل شوي دي.

همدا راز د بادغېس ولایت د ولایتي شورا دغړو په وینا، د دغه ولایت په آب کمري ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د شپنیو عملیاتو پر مهال ۲ ولسي وګړي وژل شوي دي.

د زابل ولایت په شاجوی ولسوالۍ کې ۴ تنه د وسله‌والو طالبانو په راکټي بریدونو کې وژل شوي دي.

د خوست ولایت په دوه‌منده ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د نښتې پر مهال یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

**د جولای ۱۷مه:**

د سرپل ولایت په امام جعفر سیمه کې ۴ ماشومان د ماین د چاودنې له امله وژل شوي دي.

د هرات ولایت په پښتون زرغون ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۳ ملکي وګړي وژل شوي چې ټول د یوې کورنۍ غړي وو.

د کندز ښار د پولیسو د دریمې حوزې اړوند سیمه کې په یوه بایسکل پورې تړل شوي ماین د چاودنې له امله یو ملکي وګړی وژل شوی او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۱۸مه:**

وسله‌والو طالبانو د کندهار ښار د امنیه قوماندانۍ د ننوتلو دروازې سره د موټر بم برید وکړ، چې له امله یې ۸ ملکي وګړي وژل شوي او ۹۰ نور ټپیان شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۱۳۳ | ۱۰۷ | ۲۴۰ |
| مجموعه | **۱۳۳** | **۱۰۷** | **۲۴۰** |

## بهرنیو ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د جولای ۱۳مه:**

امریکایي جکړن جېمز راین سارتور په فاریاب ولایت کې د وسله‌والو طالبانو له لوري په ډزو وژل شوی دي.

## پایله

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې د روان لمريز ۱۳۹۸ کال د چنګاښ له ۲۱مې تر ۲۷مې (د جولای له ۱۲مې تر ۱۸مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ٦۵۵ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د یادولو وړ ده، چې دا اوونۍ هم د تېرې اوونۍ په څېر د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو لپاره خونړۍ اوونۍ وه (جدول-۴).

په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله کمه شوې؛ خو د دولت د وسله‌والو مخالفینو او ملکي خلکو مرګ ژوبله بیا زیاته شوې ده. په تېره اوونۍ کې ۱٦۰ افغان سرتېري وژل شوي وو، چې په دې اوونۍ کې د پام وړ کموالي ښودنه کوي. د وسله‌والو طالبانو د وژل شوو شمېره بیا تېره اوونۍ ۲۲۳ تنه وه، چې په دې اوونۍ کې د لږ زیاتوالي ښودنه کوي. خو په تېره اوونۍ کې بیا د ملکي وګړو د وژل شوو کچه ۵۷ تنه وه، چې په دې اوونۍ کې نژدې دوه چنده شوې او ۱۳۳ تنه وژل شوي دي.

ملکي خلکو ته یو ځل بیا هم د افغان او بهرنیو ځواکونو د هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو له کبله مرګ درنه ژوبله اوښتې وه، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې په بار بار دا ډول پېښو کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي؛ خو افغان حکومت يې په اړه کوم پام وړ ګام نه دی پورته کړی. همدا راز په دې کې بیا هم د وسله‌والو طالبانو له لوري په شوو چاودنو کې، په تېره بیا د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوو ماینونو په چاودنو کې زیات شمېر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

### جدول ۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپیـــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۹۴ | افغان ځواکونه | ۵۱ |
| د دولت وسله‌وال مخالفین | ۲۲۸ | د دولت وسله‌وال مخالفین | ۴۱ |
| ملکي وګړي | ۱۳۳ | ملکي وګړي | ۱۰۷ |
| بهرني ځواکونه | ۱ | بهرني ځواکونه | ۰ |
| **مجموعه** | **۴۵٦** | **مجموعه** | **۱۹۹** |
| **ټول وژل شوي او ټپیان** | | **٦۵۵** | |

پای